دوه ډوله د جهنم خلک دي چې ما تر اوسه نه دي ليدلي: يو ډول داسې خلک دي چې د غواګانو د لکيو په څېر قمچيني ورسره وي او خلک پرې وهي او هغه ښځې چې جامې لري خو بربنډې وي، سړي ورته مايله کيږي او دوی سړيو ته ميلان پيدا کوي

له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «دوه ډوله د جهنم خلک دي چې ما تر اوسه نه دي ليدلي: يو ډول داسې خلک دي چې د غواګانو د لکيو په څېر قمچيني ورسره وي او خلک پرې وهي او هغه ښځې چې جامې لري خو بربنډې وي، سړي ورته مايله کيږي او دوی سړيو ته ميلان پيدا کوي، سرونه يې داسې جوړ کړي وي لکه د اوښ د مايله بوقان په څېر، دوی به جنت ته داخلې نه شي، او نه به يې بوی ومومي، حال دا چې بوی يې په دومره دومره مسافه کې موندل کېدلی شي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوه ډوله دوزخيانو په اړه خبرداری ورکړی چې ليدلي يې ندي او د هغه په وخت کې لا دا ډول خلک نه و راښکاره شوي، بلکې له هغه نه وروسته به راځي. لومړ ډول: هغه خلک دي چې د غواګانو د لکيو په څېر اوږدې قمچيني لري او خلک پرې وهي، نو دا پوليس او د ظالمانو ملاټړي دي چې خلک په ناحقه وهي. دويم ډول: هغه ښځې دي چې د عفت او حيا جامې يې لرې کړې وي چې معمولا ښځې يې په فطري لحاظ لري. او داسې يې توصيف کړې چې: په حقيقت کې جامې لري، خو په معنوي لحاظ لوڅې وي؛ ځکه نر جامې اغوندي چې پوستکي تري ښکاري، د بدن يوه برخه پوښي او بله د ښايست ښودلو په موخه لوڅوي. دوی د سړيو زړونه د دوی په جامو او په ځانګړې توګه قدم اخيستلو سره ځانته مايله کوي، خپلې اورې کروي، او نور انحراف او هغه بې لاريتوب ته رامايله کوي چې دوی په کې لويدلي دي. د دوی له ځانګړتياوو څخه ځينې دا دي چې: سرونه يې د اوښ د مايل بوقان په څېر وي، دوی د خپلو سرونو حجم غټوي او سربند او نور شيان تري تاووي. د اوښ له بوقان سره يې مشابهت د سر د پاسه د دوی د ويښتانو او کمښيو د پورته کولو له امله دی او ويښتان داسې راماتوي چې کمځ د سر يوې خنډې ته کروي، لکه څرنګه چې د اوښ بوقان يو طرف ته مايله وي. نو په کومو مېرمنو کې چې دا صفتونه وي، په اړه يې دا سخت ګواښ راغلی دی چې جنت ته به نه ننوځي، نه به يې بوی مومي او نه به ورته نږدې شي، په داسې حال کې چې د جنت بوی له ډېرې لرې واټن څخه حس کيږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8903